






د مجیب الرحمن « خطیبي » لیکنه
د نشر نیټه : اول می ۲۰۱۳ میلادی

# ستا په زمانه کې !

اوریدلي مې دي
چې
ستا په زمانه کې
موسم د
پسرلی کې
بوټي
له اوبونه
خړوبه کیدي
ګلان مستیدل
ونې مستیدې
په شین اسمان کې
بوراګان نڅیدل
بلبلان ګډیدل

هو !
ستا په زمانه کې
سیندو نو
څپې وهلي
هر څه مست
د ژوند په خوند ول
له زړه نه مینه

او ځیرینه
خوښي بادیده
یعنی هرڅه په خندا وو

هو !
ستاپه زمانه کي
خو راشه زموږ
زمانی ته
زموږ پسرلی ته
بوټي
هره خوا
ټکي ټکي
وني له غمه وچې شوي
پاڼي له غمه ژیړې شوي
سبزې له غمه سپینې شوي

هو !
زموږ په زمانه کي
د هرچا
په اوږه
ټوپك، او
دهرچا په لاس
کي چاړه ده
د ظالمو
له لاسه
په هر کور کي
ژړا ښوره ده
د مور په سترګوکي
اوښکي
د پلار په لاس کي
مړی
دزوي په لاس کي
ویني

هو !
زموږ په زمانه کي
هرشي کي
توپیر ورك شوي
شاهان لاندي
ویده شوي
غلامان پاس

په تخت ختلي
نورنشم
دا حالت ليدلی
نورنشم زغملی
کاش چې په سترګو
ړوند وي
په خوله ګنګ وي
په غوږونو کوڼ وي
د ليونو پشان
د هرڅه نه
بي خبر وي

هو !
ستا په زمانه کې .....

*****
مجيب الرحمن « خطيبي »

کابل ـ افغانستان
2013/04/31

www.said-afghani.org– بازگشت به صفحه اصلی